Fair Work Commission

# Fair Work Commission

مونږ د استرالیا د کار ځای د اړیکو خپلواکه محکمه یو. مونږ د کارمندانو او کارګمارونکو سره مرسته کوو چې په کار کې ستونزې حل کړي.

پدې کې شامل دي:



غیر عادلانه ګوښه کول | ځورول | جنسي ځورونه | تبعیض | د کار ځای د حقونو شخړې

مونږ هم:

- پریکړه کوو چې ملي لږ تر لږه معاش څومره وي
- د ځینو کارګرانو لپاره د کار لږترلږه شرایط ټاکو
- د تصدی تړونونه تصویبوو
- د راجستر شویو سازمانونو، لکه اتحادیې او د کار ګمارونکي سازمانونه، کار کنټرولوو

زموږ دنده د کارمندانو او کارګمارونکو لپاره د ساده، عادلانه او منعطف کاري ځای اړیکو ملاتړ کول ده.

د معاش، رخصتۍ او نورو امتیازاتو په اړه د معلوماتو لپاره د Fair Work Ombudsman ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ www.fairwork.gov.au

Fair Work Commission

## د کار ځای مسئلو حل کول

کله چې تاسو له مونږ څخه د کار ځای د مسلې د حل کولو غوښتنه کوئ، تاسو قانوني پروسه پیل کوئ.
تاسو به د یوی فورمې ډکولو ته اړتیا ولرئ چې مسئله تشریح کوي.
زمونږ په ویب پاڼه کې 'Apply or Lodge' ته لاړ شئ.
مونږ به ستاسو فورمه د بل ذیدخل کس سره شریکه کړو. د دوی فورمه به هم تاسو سره شریکه شي.
مونږ به تاسو سره مرسته وکړو چې د حل لار ومومئ.

که دا تګلاره کار ونکړي، تاسو کولی شئ له مونږ څخه وغواړئ چې ستاسو لپاره د پایلې پریکړه وکړو.
دا په محکمه کې د اوریدلو په څیر دی. زمونږ پریکړه په قانوني توګه پابنده ده.

## ستاسو په ژبه کې مرسته

تاسو کولی شئ مونږ ته د زنګ وهلو لپاره د شفاهي ژباړنې او لیکلې ژباړنې خدمت
Translating and Interpreting Service (TIS) وکاروئ.

Interpreter
**131 450**
زنګ ووهئ. دا وړیا خدمت دی.

د تلیفون ځواب ورکوونکي ته ووایه:
- خپله ژبه – چې هغوی وکولی شي تاسو له ژباړونکي سره وصل کړي
- زموږ نوم – Fair Work Commission (د عادلانه کار کمیسیون)
- زموږ د تلیفون شمیره – 1300 799 675

که تاسو اړتیا لرئ په ملاقات یا محکمې اوریدنه کې برخه واخلئ مونږ کولی شو یو ژباړن هم راوغواړو.

## وړیا قانوني مشوره

که تاسو د څه کولو په پریکړه کولو کې مرستې ته اړتیا لرئ، مونږ د کارمندانو او کوچني سوداګریو لپاره وړیا قانوني خدمت لرو.

زمونږ په ویب پاڼه کې '(د کار ځای مشورې خدمت 'Workplace Advice Service' وپلټئ.

دا خدمت کولی شي په کار کې د غیرعادلانه ګوښه کولو، تبعیض، ځورونې او جنسي ځورونې په برخه کې تاسو سره مرسته وکړي.